## مطبوعاتي اعلامیه

# د حزب التحریر یوه پلاوي په بیروت کې د سویډن له سفارت څخه لیدنه وکړه، ترڅو ازبکستان ته د اودلجون جلیلوف د تبعید څنډولو غوښتنه وکړي

د حزب التحریر یوه پلاوي د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د مشر، انجنیر صلاح الدین عضاضه په مشرۍ، چې په لبنان کې د حزب التحریر د ارتباطاتو د مرکزي کمیټې یوه غړي انجنیر صالح سلام هم ورسره مل و، د ۲۰۲۱م کال، د نومبر په ۱۲مه، په بیروت کې د سویډن له سفارت څخه لیدنه وکړه او د سفارت له مرستیال سره یې ولیدل، تر څو له سویډن څخه ازبکستان ته د اودلجون جلیلوف د تبعید پرېکړه څرګنده کړي؛  ځکه د جلیلوف د تبعید تصمیم د هغه د ژوند لپاره جدي ګواښ دی. دغه پلاوي توضیح کړه چې ازبکستان د سیاسي مخالفینو په تېره بیا د حزب التحریر د راپرځولو او تر مرګ پورې د هغوی د شکنجه کولو اوږده او بد نامه سابقه لري. دغه پلاوي د عکسونو یوه نمونه وړاندې کړه، چې د هغو کسانو د ناوړو شکنجو ښکارندويي یې کوله، چې په ازبکستان کې په شهادت رسېدلي وو.

دغه پلاوي همدارنګه د حزب التحریر له لوري صادره شوې مطبوعاتي اعلامیه په سویډن کې سویډني او اروپايي مطبوعاتو او د بشري حقونو سازمانونو ته وښوده، چې ازبکستان ته د اودلجون تبعید هم له همداسې جدیت سره مخ کېدلای شي. دغه پلاوي همدارنګه په نړیوالو ورځپاڼو کې مقالې خپرې کړي، چې د حزب التحریر د غړو او د هغوی د کورنیو پر وړاندې یې د ازبکستان رژیم د بشري حقونو څخه ښکاره سرغړونه تاییدوله.

موږ غواړو یادونه وکړو چې د بشرپالنې پر ټولو غوښتنو د سویډن مقاماتو سترګې پټول، زموږ د ورور اودلجون جلیلوف پر ایستلو ټینګار او د ازبکستان ظالم رژیم ته د هغه سپارل، چې د هغه د ژوند لپاره واقعي ګواښ دی، سویډني مقامات مسوول دي.

**انجنیر صلاح الدین عضاضه**

**د حزب التحریر ـ مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د ربیع الثاني ۷مه**

**۲۰۲۱م، د نومبر ۱۲مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۳/۰۱۵**